


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 5 دسمبر 2024 ميلادی

# د جانان تصوير!

د جانان تصوير جوړ نه شو په قلم
شپه پخه شوه ، زړه شو پاتې بې ملهم

د قلم داوښکو څاڅکي وچې نه شوې
لکه ګل باندې، چې څاڅي تل شبنم

د جانان خيالات مې ټول ذهن کې ګرځي
ځکه خولې ځنې مې ووځي سنم

د حالاتو جيل کې پروت يمه ارمانه
درتلی نه شم ما به نه ګڼي ګرم

دا دنيا ده دا يې کار حفيظ « مليار»
چيرته وګوري خوښي، چيرته ماتم

***

عبدالحفيظ « مليار »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی